


دکتور حبیب الله تږی

کله چې سړے هغه روایات او نظریات راسپړي چې د پښتنو د اصل او ریښې په باره کښې په مختلفو آثارو کښې راغلي دي نو له راورټي سره دا خبره هرومرو مني چې «د پښتنو د ژبې د اصل او ریښې په باره کښې هم د نظر اختلاف تر هغه کم نۀ دے لکه خپله د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې چې دے.» (۱)

پښتو چا د دېوانو ژبه بللې ده، چا سامي ژبو ته ورکش کړې ده او چا په هندو ایراني ژبو پورې تړلې ده. چا د هندو ایراني ژبو د سترې ونې په هندي څانګه پورې مربوطه ګڼلې ده او چا ئې په ایراني څانګه پورې. چا بیا پښتو اصلاً د ساکانو یا سیتیانو ژبه بللې ده او چا د هندو ایراني ژبو ترمنځ یوه مستقله ژبه او د اتصال کړۍ ګڼلې ده.

د تذکرة الملوک (۲) مؤلف وائي چې ځنې روایتونه پښتو د دېوانو ژبه بولي، دې لیکي:

«ځنې روایتونه وائي چې افغانانو خپله ژبه له دېوانو نه زده کړه. ځنې نور بیا وائي دا د کسۍ د غرۀ د اوسېدونکو ژبه ده. د افغانانو دا عادت ؤ چې د دغو خلقو ښځې او لونړې به ئې تړې بوولې او ودونه به ئې ورسره کول او ځکه ئې نو پښتو ژبه ورنه زده کړه او خپله ژبه ئې چې ابراهیمي (عبري) وه، هېره کړه.» (۳)

کوم مطالب چې د پښتنو د اصالت په باره کښې ځنې غربي مؤلفینو لیکلي دي، په هغو کښې هم بعضې د تذکرة الملوک له افسانوي روایت نه وروستو نۀ پاتې کېږي.

هنري راورټي لیکي: «د پښتو ژبې د افعالو او ضمائرو له خصوصیاتو او ځنو نورو مشخصاتو نه داسې ښکاري چې دا یوه عجیبه او لرغونې ژبه او له هرې معلومې ژبې نه متفاوته ده.» (۴)

راورټي وائي د دې خبرې دلیل دا دے چې پښتانۀ اصلاً د یهودو د لسو ورکو شوو قبیلو بقایا دي. دې وائي کوم وخت چې دا قبیلې د فلسطین په یهودیه کښې اوسېدې هلته ئې ژبه د یو شمېر نورو قبائلو له لهجو سره ګډه شوه. کله چې دا قبیلې له خپل اصلي ملکه د هغوي دا اوسني ملک افغانستان ته روانې وې، په لاره کښې ئې ژبه د ډېرو نورو ملکونو له ژبې سره هم ګډه شوه. څۀ رنګه چې دغه د لارې په سر ملکونه اکثره غرني وو نو

خلق ئې په مختلفو درو کښې په داسې وړو وړو قومونو وېشل شوي وو چې له بهر سره ئې رابطه او مخابره نۀ لرله. ځکه ئې نو د هر قوم ژبې له نورو ژبو سره بېخي توپير لارۀ. راورټي په پايې کښې ليکي څۀ رنګه چې د پښتو ژبې اساس هم دغه ګډه وډه ژبه جوړوي نو له دې امله دا يوه عجيبه او له نورو نه متفاوته ژبه ده. [۵]

کله چې راورټي د خپل ګرامر په مقدمه کښې د پښتو او نورو ژبو په ارتباط غږېږي، د هغو کسانو نظريات ردوي چې وائي پښتو يوه اريائي ژبه ده او وائي چې «پښتو زما په خيال د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري» په دې پسې راورټي کوشش کوي دا وښيي چې پښتو هم په صوتي، هم په صرفي او هم په نحوي لحاظ عربۍ او عبرانۍ سره تړلې ده. [۶]

راورټي يو ځيرک او د ډېرې وسيعې مطالعې خاوند محقق ؤ او له زړو ايراني ژبو په تېره بيا زند سره ئې د پښتو نزدې ارتباط درک کړے ؤ مثلاً يو ځائے ليکي:

«نن له اباسيند نه سمدستي لوېديځ پلو ته داسې يوه ژبه وئيل کېږي چې د عباراتو او ساختمان په لحاظ له هرې معاصرې ژبې نه بېخي فرق لري او په غالب ګمان له زند، پهلوي او عبري نه راوتې ده او دا ژبه پښتو ده. [۷]

خو څۀ رنګه چې د راورټي مطالعه په زړو فارسي او پښتو آثارو کښې ډېره پراخه او په دغو آثارو کښې چې راورټي په ډېر زيات اهميت ورته قائل ؤ، پښتانۀ په مکرر او متواتر ډول بني اسرائيل بلل شوي وو او خپله پښتنو هم دا روايت تائيدوۀ. نو له دې امله دې تر پايه له سامي ژبو په تېره بيا عبري سره د پښتو د اصل او ريښې په نزدې ارتباط کلک ودرېد او ورنه تېر نۀ شو.

سر ويليم جونز، د بنګال د شاهنشاهي آسيائي ټولنې د مؤسسې رئيس له راورټي نه پخوا پښتو له سامي ژبو سره ورته بللې وه. جونز د بنګال د آسيائي ټولنې په مجله کښې په هغې يو لنډکې او بې درنګه تبصره کښې چې د يوې تاريخي ليکنې په ارتباط ئې وکړه ووئيل چې «پښتو کلداني ژبې ته ډېره زياته ورته ده» [۸]

مګر د پښتنو د تاريخ او ژبې يو شمېر ځيرونکو او د ژبنيو مطالعاتو مقتدرو پوهانو له کلدانۍ او نورو سامي ژبو سره د پښتو ارتباط په قاطعيت رد کړو او وې وئيل چې پښتو له اصله يوه آريائي ژبه ده.

کلاپروت وړومبے وتلے مستشرق ؤ چې په کال ۱۸۱۰ کښې ئې د آسيائي ادبياتو د آرشيف په اول ټوک کښې دا نظريه په صراحت رد کړه چې ګوندې پښتو له سامي ژبو سره تړلې ده. دۀ وليکل چې د «پښتو او سامي ژبو ترمنځ نۀ په کلماتو کښې اندکترين شباهت شته او نۀ په ګرامري جوړښت کښې.» [۹]

منستو ارټ الفنسټن چې د پښتنو د ټولنې او تاريخ د مطالعې په برخه کښې د ډېر اوچت صلاحيت خاوند ؤ، په کال ۱۸۱٤ کښې د پښتو او کلداني ژبې د ورته والي په باره کښې د ويليم جونز خبره رد کړه او وې ليکل چې دۀ دوه سوه او اتلس پښتو کلمې د يو شمېر نورو ژبو له معادلو کلمو

سره مقائسه کړې، خو «له دېو نه یوې هم له عبراني او یا کلداني سره اندکترین شباهت نۀ لارۀ.»[10]

یو بل انګرېز مؤلف جان ملکم هم د فارس په تاریخ کښې الفنستن ته ورته نظر څرګند کړو او وې لیکل چې د «عبري او پښتو یا د افغانانو د معاصرې ژبې تر منځ د نزدېوالي هیڅ څرک نۀ لګېږي.»[11]

د پښتنو د تاریخ او ژبې او ادبیاتو لوئے محقق او ستر مستشرق برنارډ ډورن هم په کال ۱۸۶۳ کښې ولیکل چې «پښتو ژبه له عبري یا کلداني ژبې سره نۀ د ګرامر په لحاظ اندکترین شباهت لري او نۀ د لغاتو په لحاظ.»[12]

ډورن د پښتو منتخباتو په مقدمه کښې هم دا خبره وکړه چې «پښتو له هیڅ سامي ژبې سره څۀ ارتباط نۀ لري».[13]

په یوۀ بل اثر کښې هم چې د هرې زمکې انجیل نومېږي او په کال ۱۸۴۸ کښې ښکسټر خور کړے دے، د پښتو د سامیت نظریه په قاطع ډول رد شوې او لیکل شوي دي چې پښتو «د سامي ژبو هیڅ خصوصیات نۀ لري.»[14]

البته یو زیات شمېر غربي مؤلفینو او د ژبنیو مطالعاتو پوهانو نۀ یواځې دا چې له ډېر پخوا نه د پښتو د سامیت نظریه رد کړې، بلکې دا ئې هم په ډاګه کړې ده چې پښتو یوه هندو اریائي ژبه ده.

بیا هم کلاپروت وړومبے غربي محقق دے چې پښتو ئې یوه آریائي ژبه وبلله او دا عقیده ئې په ډېره کلکه په ډاګه کړه چې «پښتو بې شکه د هندو، جرمانیک ژبو د سترې ډلې یوه څانګه ده.»[15]

د ژبنیو مطالعاتو ډېر لوئے عالم پاټ هم پښتو په قاطع ډول آریائي ژبه وبلله. لوونتال په دې ارتباط داسې لیکي:

«پاټ چې بل د دۀ په سویه ستر د فق اللغه عالم نۀ دے تېر شوے، یوه شبهه هم په دې صرفه نۀ کوي چې پښتو د هندو آروپائي ژبو په قطار کښې ودروي.»[16]

ډورن هم د پښتو منتخباتو په مقدمه کښې پښتو یوه سوچه آریائي ژبه وبلله او وې لیکل چې پښتو د هندو فارسي ژبو په لویه کورنۍ پورې مربوطه ده.»[17]

اما هر څومره چې د ژبې تاریخي مقائسوي څېړنې زیاتره د علم حېثیت غوره کاوۀ، د ژبو په باره کښې مطالعه هم هغه هومره دقیقه کېدله. د پښتو په برخه کښې هم پوهانو یواځې په دې قناعت ونۀ کړو چې د هندو، ایراني ژبو په کورنۍ پورې مربوطه آریائي ژبه ئې وبولي. بلکې غوښتل ئې دا هم معلومه کړي چې د دغې لویې کورنۍ له کومې څانګې سره خاص ارتباط لري.

څۀ رنګه چې په پښتو کښې د هندو ایراني ژبې د لویې کورنۍ د دواړو ډلو خصوصیات د ورایه او په وفرت موجود دي نو په اول کښې چا پښتو په هندي ډله پورې وتړله او چا په ایراني ډله پورې.

کوم غربي لیکوال چې پښتو ئې وړومبي ځل د هندو ایراني ژبو له هندي ډلې سره مربوطه وګڼله هغه رابرټ لیچ دے. لیچ په کال ۱۸۳۹ کښې د بنګال د آسیائي ټولنې په مجله کښې د پښتو ګرامر په باره کښې یو مضمون چې په حقیقت کښې په لویدیځ کښې د پښتو ګرامر وړومبۍ طرحه ده، خور

کړو او د هغهٔ په مقدمه کښې ئې د پښتو او سنسکرت د اصواتو له یوې ساده مقائسې نه وروستو ولیکل چې د دغو دوو ژبو اصوات ښیي چې پښتو په قاطع ډول د سنسکرت بڼه لري. [۱۸]

اما چا چې پښتو د هندي ژبو د یوې ښائسته وسیعې تاریخي- مقائسوي مطالعې په نتیجه کښې د هندو ایراني ژبو له هندي څانګې سره مربوطه وګڼله هغه رودلف هورنل دے. هورنل په خپل اثر کښې چې د ګادي ژبو مقائسوي ګرامر نومېږي لیکي چې د هند شمال غربي سرحد تر نهائي حدودو پورې پراکرت ژبې وئیل کېږي. ((خو له دې ځائے نه ها خوا پښتو او کافري ژبې پرتې دي.)) دې خبرې ته دوام ورکوي او لیکي ((ترومپ په خپلو هغو مقالو کښې چې د پښتو او کافري ژبو په باره کښې ئې لیکلي دي، له ګادي سره د دغو دوو ژبو نژدېوالي ته توجه راړولې ده... مګر خبره له دې نه وړاندې ځي او (دغه ژبې) خصوصاً پښتو د ګادي پراکرت، ژبې مسلم خصوصیات لري.)) [۱۹]

هورنل په دې پسې له څنو ګادي ژبو سره د پښتو او نورستاني ژبو یو شمېر ګډ خصوصیات او ممیزات په ګوته کوي او په پایې کښې لیکي چې (( له دې نه څرګندېږي چې ګادي پراکرت او پښتو او کافري ژبې په لرغونې زمانه کښې ښخي سره نژدې وې او حتې یوه ژبه ئې جوړوله. وروستو سور اسیني ژبې د ګادي او د دغو ژبو تر منځ واقع شوې او ګادي ژبه ئې ورو ورو د شرق په لور ښخي لرې ټېل وهله.)) [۲۰]

په پښتو کښې د هندي آریائي ژبو خصوصیات دومره باریز وو چې حتې فرانسوي لوئے ختیځ پوه جیمز ډارمستېټر هم په اول سر کښې په خپل هغه اثر کښې چې هند ته د فلالوجیکو مطالعاتو د سفر رپورټ نومېږي او په کال ۱۸۸۷ کښې خور شوے دے، د هندو ایراني ژبو په هندي ډله پورې مربوطه وګڼله.)) [۲۱]

اما چا چې پښتو اول وار د هندو ایراني ژبو د ونې له ایراني څانګې سره وتړله هغه شپلې ډیور دے. دهٔ په خپل هغه اثر کښې چې د ((مقائسوي فلالوژي اجمال)) نومېږي او په کال ۱۸۵۳ کښې خور شوے دے، پښتو اساساً د ایراني ژبو په قطار کښې ودروله خو په عین وخت کښې ئې ووئیل چې پښتو ځان ته خاص موقعیت لري. دې د ایراني ژبو په بحث کښې لیکي چې د افغانستان ژبه یعنې پښتو هم په هم دې څانګه پورې ارتباط لري خو ((ځان ته ئې په یوه خاصه او ابتکاري طریقه انکشاف ورکړے دے.)) [۲۲]

د ژبنیو مطالعاتو لوئے عالم ماکس میولر هم پښتو له ایراني ژبو سره مربوطه وګڼله. دهٔ په خپل هغه اثر کښې چې عنوان ئې ((په شرق کښې د جګړې د مرکز ژبې)) دي او په کال ۱۸۵۵ کښې خور شو ولیکل ((افغاني یا د پښتنو ژبه... د خپل ګرامر په لحاظ د فارس د ژبو له ډلې سره تړلې ده.)) [۲۳]

میولو وروستو په خپل یو بل اثر ((د افغانانو ژبه)) کښې چې په کال ۱۸٦۲ کښې خور شو، خپله خبره نوره هم تصریح کړه او پښتو ئې د ایراني ژبو په شرقي ډله پورې مربوطه وګڼله او په دې ترتیب ئې له (زند) سره ونښلوله. [۲۴]

پاټ په کال ۱۸۳۳ کښې اروپائي ژبې په پنځو کورنيو وېشي او پښتو او فارسي دواړه ئې په دوهمه کورنۍ پورې مربوطې ګڼي. [۲۵]

اما ځنو پوهانو بيا پښتو د هندي او ايراني ژبنيو ډلو ترمنځ يوه ځان ته او مستقله ژبه بللې ده.

ډاکټر ارنسټ ټرومپ چې د خپلو ډېرو وسيعو ژبنيو مطالعاتو او څېړنو په لړ کښې ئې پښتو ګرامر هم ليکلے دے، پښتو د هندي او ايراني ژبو ترمنځ يوه د اتصال کړۍ بولي او ليکي «پښتو کلمات مستقيماً له ګاونډيو پراکرات لهجو، په تېره بيا پنجابي او سندهي نه مشتق شوي دي. د صرف او ترکيب د عمليې د ساختمان له نظره سندهۍ ته ښېخي زياته ورته ده. پښتو په تېره زمانه کښې د متعدي افعالو له نظره له سندهۍ سره کامل مطابقت لري او يواځې د سندهي ژبې په اساس تشريح کيدلې شي. مګر پښتو په هيڅ صورت کومه د پراکرت لهجه نۀ ده، بلکې يوه زړه مستقله ژبه ده چې له هندي آريائي ژبو د ايراني ژبو کورنۍ ته د بدلون ورومبنۍ مرحله ښيي او ځکه نو د دواړو خصوصيات او مميزات پکښې څرګند دي. خو بيا هم د پراکرت خصوصيات زياتره پکښې باريز دي. د پښتو دا خصوصيت د هغې له جغرافيائي موقعيت سره هم اړخ لګوي.» [۲۶]

پروفېسر اډيلنګ هم پښتو يوه ځان ته مستقله او خاصه ژبه وبلله. [۲۷] او شپلے ډيور هم، لکه څنګه چې وړاندې ووئيل شول وائي چې «پښتو ځان ته په يوه خاصه او ابتکاري طريقه انکشاف ورکړے دے.» [۲۸]

ډورن خپله د پښتنو په باره کښې هم دا نظر لري او وائي چې پښتانۀ نۀ د ايرانيانو له پښته دي او نۀ د هنديانو، بلکې دا د دغو دواړو سترو اولسونو ترمنځ يو مستقل قوم دے.» [۲۹]

جان ملکم هم په دې برخه کښې ډورت ته ورته نظريه لري او ليکي چې «پښتانۀ له فارسيانو او هنديانو نه متفاوت خلق دي.» [۳۰]

اما د چا خبره چې د پښتنو د ژبې د رېښې او اصالت د ټاکلو په برخه کښې د کاڼي کرښه شوه، هغه فرانسوي لوئے عالم او ستر مستشرق جيمز ډارمستېټر ؤ. دۀ د خپل هغه درانۀ او ستر اثر په اوله برخه کښې چې د افغانانو اولسي سندرې نومېږي او پښتو عنوان ئې د پښتونخوا د شعر هاروبهار دے (چاپ ۱۸۸۸)، پښتو او زند په پوره تفصيل او ډېر دقت سره مقائسه کړې او په پايې کښې دې نتيجې ته ورسېد چې پښتو له زند سره دومره نزدې ارتباط لري لکه نوې فارسي ئې چې له زړې فارسۍ سره لري. په دې ډول ډارمستېټر د يوۀ واقعي طالب علم په حېث پخوانۍ نظريه د نويو حقائقو په رڼا کښې بدله کړه او پښتو ئې په قاطع ډول د هندو ايراني ژبو د لويې ډلې د ايراني ډلې په شرقي ډلګۍ پورې مربوطه وګڼله او په ډاګه ئې کړه چې پښتو زند ته ښېخي نزدې يوه بله ژبه ده. خو پښتو د شمالي هندي ژبو عناصر هم په ښېخي خلاص او پراخه پېمانه کسب کړي دي.» [۳۱]

جارج مارګنسټرن چې د پښتو ژبې په تېره بيا د هغې د تاريخي- مقائسوي څېړنې په برخه کښې له ډارمستېټر نه راوروستو د ډېر اوچت صلاحيت خاوند دے. د ډار مستېټر نظر کاملاً تائيدوي خو

په عین وخت کښې پښتو په شرقي ایراني ژبو کښې د ساکانو لرغونې ژبې ته دومره ورنږدې بولي چې وائي پښتو له اصله غالباً یوه د ساکا لهجه ده. دې خبرې ته دوام ورکوي او وائي البته د دې امکان نشته چې سړے دې د دغو دوو ژبو ډېرې نږدې اړیکې تثبیت کړي.(۳۲) د مارګنسټرن خبره ځنې نور مؤلفین هم اساساً تائیدوي.(۳۳)

کۀ سړے د مارګنسټرن نظریه مني او پښتو د ساکانو لهجه ګڼي نو معنٰي به ئې دا وي چې پښتو لږ تر لږه دوه زره کاله پخوا معموله وه. ځکه د ساکانو مشران له میلاد نه تخمین سل کاله د مخه یعنې د ۹۷ ق.م په شاوخوا کښې په ننني پښتونخوا کښې مسلط شول او په پنځم میلادي کال کښې ئې سلطه پایې ته ورسېده او په دې پسې ئې ژبه هم لا درکه شوه.

اوس سوال دا دے چې پښتو او ساکانو خو اساساً د ایراني ژبو په شرقي ډله پورې مربوطې ژبې دي. نو پښتو دا دومره قومي د هندي ژبو خصوصیات له کومه کړل؟ دا سوال دوه احتمالي ځوابونه لرلې شي. یو دا چې پښتو له اصله یوه ایراني ژبه وه او د هندي ژبو ډېر زیات عناصر لکه څنګه چې ډارمسټېټر او نور وائي، وروستو ورداخل شوي دي. بل دا چې پښتو له اول سر نه داسې یوه ژبه وه چې هم ئې د هندي ژبو خصوصیات لرل او هم د ایراني ژبو. راځئ چې وړومبے دا اول احتمال وڅېړو.

د یوۀ قوم ژبې ته د یوۀ بل قوم د ژبې په ډېره وسیعه پیمانه خصوصیات معمولاً، هغه وخت ورداخلېدلې شي چې وړومبے قوم د دوهم قوم تر ډېرې قوي او اوږدې سیاسي او ثقافتي سلطې لاندې راغلي وي. خو تاریخ شاهد دے چې د پښتنو ملک په اسلامي عصر کښې هیڅکله هم د هندوستان تر دغه راز سلطې لاندې نۀ دے راغلے. بلکې په دې دوره کښې ډېر ځله هندوستان د افغانانو او پښتنو تر سیاسي سلطې لاندې راغلے او اساساً هم دا کار په هند کښې د اسلام او اسلامي ثقافت د خورېدو سبب ګرځېدلے دے. اما له اسلام نه وړاندې داسې یوه دوره تېره شوې چې په هغې کښې د پښتنو ملک د هندوستان تر یوې قوي او طولاني سیاسي او ثقافتي سلطې لاندې راغلے وۀ. دا دوره د موریا د کورنۍ د واکدارۍ عصر دے چې د چندرګپتا د واکدارۍ له سر نه (۳۲۳ ق.م) پیل شوے او د اشوکا په مرګ (۲۲۷ ق.م) پایې ته رسېدلے چې کېدے شي پښتو د هندي ژبو خصوصیت په دومره وسعت او قوت ورننوتې وي او کۀ دا خبره داسې وي نو پښتو به لږ تر لږه یوه دوه نیم زره کلنه او حتي تر هغه نه هم زړه ژبه وي. اما کله کۀ سړے هغه اول احتمال ومني او داسې وګڼي چې په پښتو کښې د هندي او ایراني ژبو خصوصیات ان د اول سر نه موجود وو، هلته نو بیا د ترومپ نظریه تقویه کېږي او پښتو د هندي او ایراني ژبو ترمنځ یوه ډېره لرغونې د اتصال کړۍ یا په بل عبارت د دغو دوو کورنیو د یو شمېر ژبو د انشعاب منشا ګرځي.

## یادداشتونه

1. راورټي، هنري پښتو ګرامر مخ ۱۷
2. تذکرة الملوک د پښتنو تاریخ دے او راورټي د خپل ګرامر په مقدمه کښې معرفي کړے دے.
3. راورټي، پښتو ګرامر مخ ۸
4. راورټي، پښتو ډکشنري مقدمه مخ ۱۲
5. هم دا اثر هم دا مخ
6. راورټي پښتو ګرامر مقدمه مخ ۲۲-۲۳

7. هم د اثر مخ ٤
8. جونز ویلیم آسیائي مطالعات ټوک ۲ مخ ۱۷٦
9. راورټي پښتو ګرامر مقدمه مخ ۱۷
10. الفنسټن منستوارت د کابل سلطنت مخ ۱۹۰و ۱۹۱
11. ملکم جان د فارس تاریخ، ټوک ۲ مخ ۵۹۷
12. ډورن برنارډ د افغانانو تاریخ، یادداشتونه مخ ٦۵
13. ډورن، پښتو منتخبات مقدمه مخ ۲
14. لونتال ایسیدور د بنګال د آسیائي ټولنې مجله ټوک ۲۹ کال ۱۸٦۰ مخ ۳۲۵
15. راورټي پښتو ګرامر مقدمه مخ ۱۷
16. لوونتال مخکښې یاده شوې خورونه مخ ۳۲۵
17. ډورن پښتو منتخبات مقدمه مخ ۲
18. لیچ رابرټ د بنګال د آسیائي ټولنې مجله ټوک ۸ مخ ۱ کال ۱۸۳۸
19. هورنل رودولف د ګادي ژبو مقائسوي ګرامر مقدمه مخ ۲۳
20. هم دا اثر مخ ۳٤
21. ګریرسن جارج د هند د ژبو سروې ټوک ۱۰ مخ ۹
22. ډیور شیلي د مقائسوي فلالوجي اجمال مخ ۲۹۹
23. میو لرماکس په شرق کښې د جګړې د مرکز ژبې مخ ۳۲
24. ګریرسن جارج د هند د ژبو سروې ټوک ۱۰ مخ ۹
25. لوونتال مخکښې یاده شوې خورونه مخ ۳۲۵
26. ټرومپ ارنسټ پښتو ګرامر مقدمه مخ ۱۲
27. راورټي پښتو ګرامر مقدمه مخ ۱۸
28. شیلي ډیور مخکښې یاد شوے اثر مخ ۲۲۹
29. ډورن د افغانانو تاریخ یادداشتونه مخ ۷۲
30. ملکم جان د فارس تاریخ ټوک ۱ مخ ۵۹۷
31. ګریرسن د هند د ژبو سروې ټوک ۱۰ مخ ۹
32. مارګنسټرن جورج اسلامي دائرة المعارف ټوک ۱ مخ ۲۲۰
33. اولف کېرو دي پټانز مخ ٦٦-٦۸